Kabul Press Club کابل رسنیز مرکز
Address : kart-e-se pole sorkh Opposite Kandahari Mosque
Cell : +93 707 72 78 00 - +93 787 777 311
Email: Kabul.pressclub@gmail.com

د کابل پریس کلب او د یو شمېر ازادو خبریالانو ګډه خبري ناسته

له راتلونکي کابینې څخه د خبریالانو غوښتنې:

که څه هم مرکزي حکومت په کابل کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په اړه خپل مسوؤلیت تر یوې کچې ادا کړی خو په ولایتونو کې یو شمېر خبریالان لا هم د ځینو سیمیزو چارواکو له لوري شکنجه کیږي، ګواښل کیږي او یا هم پر وخت د پېښو له جزیاتو نه خبریږي.

له همدې امله دکابل پریس کلب غړي او یوشمېر ازاد ژورنالېستان پر حکومت غږ کوي چې د خبریالانو پر وړاندې د سیمیزو چارواکو د تاوتریخوالي مخه ونیسي.

ددې ترڅنګ بله مهمه موضوع د خبریالانو او حکومتي ادارو د ویاندویانو تر منځ د افهام او تفهیم ستونزه ده، چې نن سبا خلک معلوماتو ته د ژر تر ژره لاس رسي تنده لري او د رسنیو تر منځ شته رقابت د دې لامل شوی چې هره رسنۍ هڅه کوي تر بلې هغې لومړی او کره معلومات خپاره کړي؛ خو یو شمیر رسنۍ ځکه د خبرې چټکوالي کې پاته راځي چې دولتي ویاندویان پر وخت معلومات نه ورکوي.

همدا راز ډیرداسي دولتي ویاندویان شته چې هغوی یواځې په پښتو خبرې کوي په دري حاکمیت نلري او ځینې یې بیا په پښتو رواني خبرې نشي کولی، چې دې ستونزې د خبریالانو فعالیتونه ټکني کړي او هم یې د دوی پر کارونه له کیفي پلوه ناوړه اغیز کړی.

(کابل پریس کلب) دغو ستونزو ته د دولتي لوړ پوړه چارواکو، په ځانګړي ډول د نوې کابینې د وزیرانو د پام وړ اړولو لپاره سره راټول شول.او په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې یې لاندې غوښتنې وکړې:

۱. د وزارتونو، والیانو او نورو لوړو دولتي ادارو لپاره دې داسې ویاندویان وټاکل شي چې په دواړو رسمي ژبو خبرې وکولی شي او ترڅنګ یې په انګلیسي ژبه هم خبرې وکړای شي.

۲. ټول حکومتي ویاندویان دې خپلې فعاله او ځانګړې اړیکشمېرې، ایمیل ادرسونه او د فیسبوک پاڼې لینکونه له خبریالانو سره شریک کړي او همکاري دې و پالي.

۳: ویاندویان دې د اړتیا پر مهال له خبریالانو سره مرستې ته ژمن شي، پر وخت دې د خبریالانو ایمیلونه ، ځوابه وي.

۴. د ګردې میز بحث او نورو هغو غونډو ته دې ویاندویان حاضرېږي چې ددوي معلوماتو ته اړتیا وي.

۵. له خبریالانو سره د هر راز تاوتریخوالي کوونکو کسانو دندې دې وځنډول شي او په قانوني توګه دې محکمه شي.

درنښت

د کابل پریس کلب اداره

Kabul Press Club کابل رسنیز مرکز

Address : kart-e-se pole sorkh Opposite Kandahari Mosque
Cell : +93 707 72 78 00 - +93 787 777 311
Email: Kabul.pressclub@gmail.com

Address : kart-e-se pole sorkh Opposite Kandahari Mosque
Cell : +93 707 72 78 00 - +93 787 777 311
Email: Kabul.pressclub@gmail.com